د چا لپاره چې الله جل جلاله د خير اراده وکړي نو هغه ته په دين کې پوهه ورکړي

له معاوية - رضى الله عنه - څخه روايت دى وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې ويل يې: «د چا لپاره چې الله جل جلاله د خير اراده وکړي نو هغه ته په دين کې پوهه ورکړي، او يقينا چې زه ويشونکى يم او الله جل جلاله ورکوونکى دى، او دا امت به د الله جل جلاله پر دين تل تر تله ثابت وي - هېڅ مخالف به يې ورته ضرر نه شي رسولاى - تر څو چې قيامت قائم شي».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله جل جلاله چې د چا لپاره د خير اراده وکړي، نو هغه ته په دين کې پوهه ورکوي او دا چې هغه (صلى الله عليه وسلم) د رزق، علم او نورو شيانو - چې الله تعالى هغه ته ورکړي - تقسيموونکى دى؛ او ورکونکى په حقيقت کې الله دى او له ده پرته نور ټول اسباب دي چې د الله جل جلاله له اجازې پرته ګټه نه رسوي او دا امت به تر هغه وخته پورې د الله پر دين ثابت پاتې شي -څوک چې د دوى مخالفت کوي دوى ته به زيان ونه رسوي- تر هغه وخته پورې چې قيامت راشي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5518

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee